واحد فقیری
۲۰۱۲/۱۰/۱۷

# د نیویارک ټایمز سر مقاله

د اکتوبر پر ۱۳ د نیویارک ټایمز اخبار یوه اوږده او جالبه سر مقاله د افغانستان او متحده ایالاتو پر مشکلاتو باندي لیکي ده. البته، د ارګ او نیویارک ټایمز تر مینځ انتقادونه او یو بل ته بد ویل څه نوي خبره نده، خو سرمقاله لدي بابته مهمه ده چي ورځپانه د افغانستان د کشالي په هکله د امریکایانو ننني حاکم نظر او موقف بیانوي، او بله خبره دا ده چي اخبار د متحده ایالاتو له نهایت مهمو ورځپانو څخه دی چي نفوذ یي د حکومت په فیصلو کي مهم رول لري. کوښښ سوی دی چي د سرمقالي غټ او مهم ټکي بیان سي.

نیویارک ټایمز خپله سرمقاله داسي پیلوي: «څه له پاسه یوه لسیزه کېږي چي امریکایي وینې په افغانستان کي تویېږي، پوره شپږ کاله د جمهور رئیس بوش په خطرناک غفلت او بې تفاوتۍ کي ضایع سول، خو اوس ددی وخت رارسېدلی دی چي امریکایي عسکر افغانستان د یو داسي تقسیم اوقات پر اساس خوشي کړي چي لومړی هدف یي د امریکایي عسکرو امن وتل وي. دا کار باید تر یو کال زیات وخت و نه نسي. متحده ایالات به حتی د جمهور رئیس اوباما رالنډ سوي او محدود اهداف هم تر لاسه نکړي، خو د جنګ ټال او دوام به لا زیایمن وي.»

سرمقاله وایي د جمهور رئیس مرستیال بایدن وویل موږ په ۲۰۱۴ کي افغانستان پرېږدو. ښاغلي اوباما همدا خبره څو واري کړي ده. مګر د اخبار په نظر دوه کاله نور په افغانستان پاته کېدل درست کار ندی. اخبار د اوباما د مامورینو هغه خبره هم نه مني چي وایي د ۲۰۱۴ انتخاباتو لپاره باید امنه فضا برابره کړای سي، ځکه که امریکا دا کار وکړي دا به د یوه مطلق فاسد سیاسي نظام لپاره د امریکا د تصدیق او ملاتړ ټاپه وانګېرل سي.

د نیویارک ټایمز سرمقاله پخپل تاریخي اعتراف کي وایي: «دي نتیجي ته رسېدل، زموږ د موقف او نظر بدلون هم ښیي. د سپتمبر د حملو په اولو ورځو کي، د افغانستان جنګ غښتلي پلویان لرل، او په هغوی کي موږ هم شامل وو.» خو د بش په کلونو کي افغانستان هېر سو. خو اوباما ښه پالیسي غوره کړه. هغه داسي اهداف وټاکل چي واقعي ښکارېدل لکه د ښورښ ضد کمپین، پر القاعده باندي حملي زیاتول، د طالبانو نظامي مرکزونه ورانول، د کابل په حکومت کي ښه حکومتوالي او دیموکراسي ډېرول، او د افغان پوځ او پولیس جوړول.

سرمقاله لیکي مګر په افغانستان کي د «بري» چانس هله ختم سو چي د امریکا پوځ د عراق په عبثي جګړي اخته سوه. که څه هم په افغانستان کي څه پرمختګونه سوي دي، خو د یوه دیموکراتیک او با ثباته حکومت د جوړولو خبري خیالي ښکاري. . . تر اوسه پوري پدي جنګ کي ۵۰۰ بیلونه ډالره لګېدلي دي.» اخبار د امریکایي عسکرو وژل، ټپي کېدل، او د نورو رواني امراضو سره د اخته کېدو ارقام بیانوي.

اخبار لیکي: د جنګ دوام به موجوده محدودي لاسته راوړني او دایمي نه کړي. بلخوا، د طالبانو د بیا نه راتګ مسله هم ګرنټي نده، په تېر بیا په ځینو ولایاتو کي چي هغوی همدااوس هلته غښتلی حضور لري.

اخبار لیکي: ځیني ماهران وایي د امریکایي عسکرو وتل په شپږو میاشتو کي ممکن دي، خو یو کال پوره وخت دی. اخبار د یو کلن خروج ملاتړ کوي او وایي دوه کاله ډېر وخت دی او د عسکرو په مرګ نه ارزي.

نیویارک ټایمز لیکي: ښاغلي اوباما څلور کاله پخوا افغانستان یو داسي جنګ وبنود چي باید وګټل سي. د هغه ستراتیژي پر دي تکیه لرله چي یو داسي افغان عسکر او پولیس وروزي چي د طالبانو د جنګ مسولیت په یوازي سر پخپله غاړه واخلي؛ یو داسي با کفایته حکومت چي خپلو خلګو ته مقدماتي خدمات برابر کاندي؛ او بالاخره د پاکستان همکاري وګټل سي. اوس به ګورو چي دا اهداف تر کومه حده ترلاسه سوي دي.

د افغان امنیتي قواووي: امریکا په افغانستان ۳۵۰ زره کسیزه اردو او پولیس جوړ کړل چي اوس مازي په نامه د هېواد په اکثرو برخو کي امنیت تامینوي. په افغان امنیتي عسکرو کي تېښته زیاته ده او مورال کښته دی. پر


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

ایتلافي عسکرو د افغان عسکرو حملې د هغوی تر مینځ د اعتماد اړاني سستي کړي دي او هم يي د افغان پوځ روزنه سوکه کړی دی.

سرمقاله لیکي: ډوونر هېوادونه به خپلې مالي ژمنې عملي کړي، خو پدې شرط چي د کرزي حکومت خپلې وعدې پوره کړي.

د یوې موثري او با اعتباره حکومتوالی ایجادول: « د جمهوررئیس حامد کرزي کمزوری او فاسد حکومت په دوامداره توګه افغانان له ځانه خوابدي او شړي، او خلک د طالبانو حکومت ته خوشبینوي. د کرزي څو درزنو خپلوانو او ملګرو حکومتي پوستونه اشغال کړي دي، په بزنسونو لګیا دي، او د متحده ایالاتو څخه قراردادونه اخلي.»

سرمقاله د کابل بانک چور ته اشاره کوي او وايي چي حامد کرزي د عدالت د تامینولو ژمنه وکړه، خو تر اوسه پوري د هغه تاریخي رسمي غلا په باره کې هیڅ ندي سوي. که چیري حامد کرزي د اداري فساد او اختلاس پر ضد جدي ګامونه وا نه خلي، غربي مرستي له خطر سره مواجه کیږي. « زموږ عقیده دا ده چي هغه به رشتین لیډرشیپ و نه ښیي. حامد کرزی نه یوازي یو نامطمین او بې اعتباره ملګری دی بلکې هغه د امریکا اهدافو او د افغانو د منافعو د پېنو خاور کاږي.»

د کرزي پلویانو د ۲۰۰۹ انتخابات مردار او غلا کړل. د کال ۲۰۱۴ د انتخاباتو لپاره هم شرایط برابر ندي. په افغانستان کي ډیموکراسی ته خطر بمونو ندی ایجاد کړی، بلکي اصلي خطر اداري فساد دی.

د پاکستان سره روابط: بالاخره تېر جون پاکستان د امریکا پر مخ حیاتي ترانزیتي لاره بېرته پرانستله. مګر اوس هم طالبان، د حقاني ډله، او نورو افراطي ډلي په پاکستان کي دي. که چیري امریکایي قواووي له افغانستان څخه را وایستل سي، بیا نو متحده ایالات کولای سي چي د اسلام اباد سره سخت سلوک غوره کړي.

«موږ داسي استدلال نه کوو چي له افغانستان څخه د متحده ایالاتو د عسکرو د وتلو سره به سم هر څه ښه سي. نه داسي به و نه سي. طالبان به ځیني پښتني سیمې لاندي کړي، او هلته به ښځې ښه وځپي او د خلکو حقوق به تر پښو لاندي کړي. وارلاډان به د پخوا په شان لوټ او تالان ته دوام ورکړي. افغانستان به هله هم د نړی تر ټولو فقیر او خوار ملک وي. القاعده ښایي بېرته ورسي، خو د سپتمبر له یوولسمې راهیسي القاعدې په یمن او نورو ملکونو کي مرکزونه جوړ کړي دي.»

سرمقاله لیکي، «کله چي امریکا په لیرو پرتو ملکونو کي په بې فایدې جنګونو کي لتاړه وي، د امریکا نړیوالي ګټي زیاینمني کیږي.» د امریکا یوه جمهوررئیس کوریا پرېښودله. نېکسن وتیام خوشي کړل. او جمهوررئیس اوباما عراق پرېښود. «دا ملکونه یو هم د امریکا په شان دیموکراسی نه سولي، خو امریکا د هغوی په خوشي کولو سره بهتره او غښتلې سوه. د امریکا تر خروج وروسته افغانستان به تر شمالي کوریا لږ څه ښه وي، خو تر عراق به څه بد وي، او ښایي د ویتنام غوندي وي. موږ باید هر څونه ژر چي کولای سو هغومره ژر را ووځو.»

http://www.nytimes.com/2012/10/14/opinion/sunday/time-to-pack-up.html?partner=rssnyt&emc=rss&_r=0


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ